شيطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خيستل شي

له حذيفة رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يې دي: مور به کله چې د نبي صلی الله عليه وسلم سره په خوړو کې ګډون کاوه، نو تر هغه به مو خوړو ته لاس نه نږدې کاوه تر څو به چې رسول الله پيل نه و کړی، نو يوه ورځ مو ورسره په خوراک کې ګډون کاوه، نو ګورو چې يوه وينځه داسې راغله لکه څوک يې چې ټېل وهي، غوښتل يې چې خوړو ته لاس اوږد کړي، نو رسول الله يې لاس ونيو، بيا يو بانډه چې راغی هغه هم داسې و لکه څوک يې چې ټېل وهي، نو د هغه لاس يې هم ونيو، نو رسول الله وفرمايل: «شيطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خيستل شي، هغه دا وينځه راوستله چې له امله يې خوړو ته لاسرسی ولري، نو ما يې لاس ونيو؛ بيا يې دا بانډه چې راوست تر څو خوړو ته لاسرسی ومومي، نو ما يې لاس ونيو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، د شيطان لاس زما په لاس کې د دوی له لاسونو سره يو ځای دی».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

حذيفة بن اليمان رضی الله عنه يادونه کوي چې کله به دوی د نبي صلی الله عليه وسلم سره په خوړو کې ګډون کاوه نو خپل لاسونه به يې تر هغه خوړو ته نه اوږدول چې رسول الله به پيل نه و کړی، نو يو ځل ورسره ناست وو، يوه وينځه په ډېرې بېړې داسې راغله لکه څوک يې چې ټېل وهي، غوښتل يې لاس په خوړو کې ښکته کړي، نو رسول الله يې لاس ونيو، بيا يو بانډه چې هم همداسې راغی، نو مخکې له دې چې خوړو ته لاس ټېر کړي، د هغه لاس يې هم ونيو، نو رسول الله وفرمايل: شيطان کولی شي هغه مهال خوړو ته لاسرسی ولري چې انسان د الله د نوم له يادولو پرته پيل وکړي، هغه دا وينځه راولېږله چې له هغې سره خوړل ځان ته روا کړي، نو ما يې لاس ونيو؛ بيا يې دا بدوي (بانډه چې) راولېږه چې خوړو ته لار ومومي، نو ما يې لاس ونيو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، د شيطان لاس زما په لاس کې د هغې له لاس سره يو ځای و، بيا يې د الله نوم واخيست او خوراک يې وکړ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3507